شگوفه امینی

# په متحده ایالاتو او کینګ کاونټي کې د لیږد رالیږد (ټرانسپورټیشن) سیسټم

King County

PORSESH POLICY RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions



# لړلیک

- لیږد رالیږد ته یوه کتنه
- پر واټونو لیږد رالیږد
- اوسپنیزي لاري او هوايي سفرونه
- د لیږد رالیږد ټول انتخابونه (بایسیکل، اسکوټر، مساپرووړونکي کښتۍ، او پلي لارې)
- د لیږد رالیږد د سیستم ډولونو ته یوه کتنه
- په کینګ کاونټي کې لیږد رالیږد

# ټولیزه بررسي

- په متحده ایالاتو کې د لیږد رالیږد سیستم په عمومي او خصوصي برخو ویشل کیږي.
- د لیږد رالیږد په سیستم کې بېلابېلې ډولونه د اوږدو سفرونو او لیږد رالیږد لپاره جوړ شوي دي.
- د لیږد رالیږد لارې عبارت دي له:
  - **د واټونو له لارې** (موټرونه، بسونه، کرایي موټرونه)
  - **د ریل پټلۍ لارې** (میټرو، آمټرک)
  - **هوایي لارې** (کورنۍ او نړیوالې الوتنې)
  - **ځیني نورې لارې** (بایسیکل، موټرسایکل، مساپروړونکي کښتۍ)



# د لیږد رالیږد ډولونه

## شخصي موټرونه

- دا تر ټولو معمول د لېږد رالېږد وسیلې دي.
- د لنډو او اوږدو سفرونو لپاره تري ګټه اخیستل کېږي.
- کابو په هر ځای کې د تېلو ټانکونه او د برېښنایي موټرو د چارج ځایونه شته دي.

## پر لیکه ټیکسي

- کولای شئ چې اپلیکیشن یې خپل موبایل ته کښته کړئ.
- دا خدمتونه د اوبر، لیفټ او د انلاین ټکسي په نوم شرکتونه وړاندې کوي.

## عمومي او ښاري بسونه

- په ښارونو او د ښارونو په شاوخوا سیمو کې بسونه د لېږد رالېږد خدمتونه وړاندې کوي.
- د ګریهاونډ او مګابس په نوم شرکتونه شته دي چې د لویو ښارونو ترمنځ د بسونو په واسطه د لېږد رالېږد خدمتونه کوي.
- د بسونو ټکټونه کولای شئ چې انلاین یا هم د تمځایونو کې واخلئ.
- **آمټرک**: د اوږدو او د پټلۍ په وسیله د سفرونو لپاره تري ګټه اخیستل کېږي. په متحده ایالاتو کې ښارونه او بېلابېلې سیمې له دې لارې یو له بل سره نښلي.

## د میټرو او رېلګاډو لارې

- میټرو او ښاري رېل ګاډي: میټرو او ښاري رېلګاډي په لویو ښارونو کې شته دي لکه په نیویارک، واشنګټن ډي سي او شیکاګو
- رېل ګاډي او میټرو د خلکو ورځنۍ تګ راتګ ښارونو کې اسانه کوي.
- ښاري رېلګاډي او ټراموا: دا په ځینو ښارونو لکه سیاټل، پوټلینډ او سان فرانسیسکو کې د ښاري لېږد رالېږد وسیلې دي.

## هوايي سفرونه

- په هر ښار کې یو هوايي ډګر شته.
- عمومي الوتني پر دوو برخو وېشل کېږي:
  - کورنۍ الوتنې چې یوازې د متحده ایالاتو د داخل لپاره دي.
  - نړیوالې الوتنې چې له متحده ایالاتو څخه بهر نورو هېوادونو ته کېږي.

# د لیږد رالېږد نورې وسیلې







- **بایسیکل او سکواټر**
  په ښارونو کې یې په کرایه نیولی شئ، د بېلګې په توګه Lime، Citi Bike
- **مساپرورونکې کښتۍ:**
  په ساحلي ښارونو کې خدمتونه وړاندې کوي لکه په سیاټل او نیویارک کې.
- **پلی تګ:**
  ځینې مشخصې لارې د پلي تګ لپاره هم شته دي چې پلي تلونکي ترې استفاده کوي.
  په عامه پارکونو کې هم د قدم وهلو او پلي تګ لپاره لارې شته دي چې خلک ترې خوند اخلي.

# له عمومي لېږدراليږد څخه د ګټنې پړاوونه



- تل خپل لوري واردمخه وګورئ او ځان ډاډه کړئ چې په سمه لور روان یاست (له Google Maps یا هم د لېږدراليږد له نورو اپلیکیشنونو څخه ګټه واخلئ).
- همېشه ټکټ واخلئ (ټکټونه د نغدو پیسو په وسیله، د بانکي کارت په وسیله او یا هم د موبایل د اپلیکیشن له لارې اخیستلای شئ).
- تمځایونه یو په بل پسې تعقیب کړئ: د رېل او بسونو په هر تمځای کې د رېل یا بس د راتلونکي وخت په اړه معلومات موجود وي.
- که احیاناً نه پوهېږئ، نو له نورو پوښتنه وکړئ.






# په کینګ کاونټي کې لیږدرالیږد ته کتنه






# لیږد رالیږد په کینگ کاونټي کې




- په کینگ کاونټي کې د لیږد رالیږد سیستم بیلابیل ډولونه لري او په یو بل پسې او یو له بل سره تړلی دی.
- دا سیستم د کینگ کاونټي د میټرو او د ساونډ ټرانزیت له خوا مدیریت کیږي.
- په دې سیستم کې بسونه، ښاري ریل گاډي، مساپروړونکي کښتی، د ښار شاوخوا ته تلونکي ریلگاډي، بایسیکل،او پر لیکه ټیکسي شامل دي.





## مېټرو فلکس

- له نږدې تمځای څخه په اسانۍ د خپل موبایل له لارې یې ځان ته راغوښتلای شئ.
- ژر تر ژره درته د سفر لپاره رارسیږي.
- لګښت یې د بس د ټکټ هومره دی او که تاسې ORCA کارت ولرئ، نو وړیا ترې ګټه اخیستلای شئ.
- موبایل اپلیکیشنونه د لېږد رالېږد غوره انتخابونه تاسې ته درکوي.




## په کینګ کاونټي کې فیري کښتۍ

- مسافروړونکې کښتۍ د لېږد وسیلې او مسافر لېږدوي.
- دا کښتۍ د پوجیټ ساونډ او د المپیک د غرونو ښکلې منظرې هم مسافرینو ته ښیي.




## د فیري کښتیو کرایه

- د مشرانو لپاره (چې عمرونه یې له ۱۹ تا ۶۴ کلونو پورې وي): له 5 څخه تر 5.75 ډالر پورې یا هم د ORCA کارت له لارې.
- مشران چې کم عاید لري 3.57 ډالرو پورې (ORCA LIFT ته اړتیا لرئ)
- د عمرخوړلیو او معلولینو لپاره 2.5 ډالر.
- له اتلس کلنۍ څخه د کم عمر کسانو لپاره وړیا.

# د موټر چلولو لایسنس څنګه واخلو؟

## 1. خپل شرایط وګورئ

- عمر مو باید له شپاړلس کلنۍ څخه پورته وي.
- یو داسې سند باید ارایه کړئ چې هویت او د استوګنې ځای مو ترې معلوم شي.

## ۲. لومړی به د موټرچلولو اجازه (پرمټ) اخلئ.

- له لیکنی ازموینې څخه باید تېر شئ.
- د سترګو او د لید معاینات باید تر سره کړئ.
- د غوښتلینک فیس باید ادا کړئ.

## ۳. د عملي ازموینې لپاره خپله اماده ګي ونیسئ

- موټر چلول تمرین کړئ.
- د موټر چلولو ازموینه په بېلابېلو ژبو شته ده.



# د موټر چلولو پر مهال د خوندیتوب مهم ټکي



- تل احتیاط وکړئ. د سرعت محدودیت رعایت کړئ، تل له اشارو څخه ګټه واخلئ. له نورو موټرو سره د خوندیتوب واټن رعایت کړئ، په ځانګړي توګه چې هوا خرابه وي (باران، واوره او یا هم ګرد وي) نو خپل سرعت کم کړئ.
- له هغو عواملو چې پام مو اخلي، استفاده مه کوئ لکه له موبایل، فیلم یا ویډیو کتل، خوراک او څښاک څخه.
- تل خپل کمربند وتړئ او د ماشومانو لپاره له ځانګړیو سیټونو څخه ګټه واخلئ.

**په واشنګټن ایالت کې د ماشومانو لپاره د موټرونو څوکۍ**

- تر دوه کلونو پورې ماشومان باید په تر ټولو کوچنیو څوکیو کې د شا له خوا سیټ سره باید وتړل شي.
- له دوه کلونو څخه تر ۴ پورې باید له هغو څوکیو ګټه واخیستل شي چې کمربند ولري او د موټر په څوکیو کې مخامخ وتړل شي.
- څلورکلن او تر هغې مشران ماشوم تر هغې چې قد یې ۴ فوټه او ۹ اینچو ته رسیږي باید له بوسټر څوکیو څخه استفاده وکړئ.
- تر دیارلس کلنۍ پورې ماشومان باید په وروستیو څوکیو کې کېني.

# د موټر چلولو پر مهال د خونديتوب ټکي



**که چېرې پولیس ودرولئ:**

- تر هر څه لومړی آرام اوسئ، اشاره ولګوئ او په ممکن ژر فرصت کې د سړک ﺑﻮﻱ غاړې ته شئ.
- موټر مو ودروئ او ګل یې کړئ.
- لاسونه مو پر سټیرینګ داسې کېږدئ چې د لیدو وړ وي.
- کله چې پولیس درڅخه وغوښتل، د موټر ښیښه نیمه کښته کړئ.
- له پولیس سره په ادب او مهربانۍ خبرې وکړئ.
- یوازې هغه مهال چې درڅخه پوښتنه کېږي،واقعیت او رښتیا ځواب ووایئ.
- که درڅخه غوښتل کېږي، نو اسناد ورښکاره کړئ: د موټر چلولو جواز،د موټر د ثبت پاڼه، او د موټر انشورینس
- تاسې حق لرئ غلي پاتې شئ؛ کولای شئ ووایئ (غواړم چپ پاتې شم)
- هر وخت چې پولیس خپل کار پای ته ورسوه،نو بیا حرکت وکړئ، هغه ته مه منتظر کېږئ چې هغه لومړی حرکت وکړي.

# په کنیګ کاونټي کې د کډوالو لپاره لېږد رالېږد

**له عمومي لېږدلېږد وسیلو څخه ګټېنه د هویت کارت نه غواړي**

- د هویت له کارت څخه پرته: که چېرې تاسې په بسونو، ښاري رېلګاډو او یا هم مساپرو وړونکیو کښتیو کې سفر کوئ، نو تاسې دولتي د هویت کارت ته اړتیا نه لرئ چې باید درسره وي. ټکټونه تاسې کولای شئ چې مستقیماً يې د ORCA کارت له لارې، د موبایل اپلیکیشن له لارې او یا هم له خپل موبایل څخه واخلئ.
- د نغدو پیسو په واسطه د ټکټونه اخیستل: که چېرې تاسې خپل بانکي حساب یا هم د بانک کارت ته لاسرسی نه لرئ، نو کولای شئ چې ټکټونه په نغدو پیسو واخلئ. د بسونو او کښتیو ټکټونه باید واردمخه واخلئ.

**د ارزانه سفر انتخابونه**

- کمې شوې کرایې: د کینګ کاونټي میټرو د ORCA LIFT پروګرام له لارې د هغو وګړیو لپاره چې عاید یې کم وي، یا عمرخوړلي وي او یا هم ځوانانو لپاره په کرایو کې کمولی راوستی دی.
- ټولنیزې پروګرامونه: له کډوالو څخه د ملاتړ ډېری اداري لکه د کډوالو د ځای پر ځای کولو آژانسونه د کډوالو لپاره وړیا د بسونو او رېل کارتونه ورکوي چې د خپل لېږدرالېږد لپاره ترې ګټه واخلي.

# په کینګ کاونټي کې د کډوالو لپاره لیږد رالیږد




## بېلابېلې ژبې

- څو ژبنۍ سرچینې: د لیږدرالیږد سازمانونه د بسونو د تګ راتګ مهالوېش، نخچې او لارښودونه په بېلابېلو ژبو خپروي دا د دې لپاره چې هغه کسان چې په انګلیسي نه پوهېږي،په اسانۍ خپل لورى لودن ومومي.

- د پېرېدونکیو خدمتونه: د لیږدرالیږد او رېلپټلیو اکثره کارکوونکیو ته د پېرېدونکیو د خدمتونو روزنه ورکړل شوې ده چې د اړتیا په صورت کې په بېلابېلو ژبو خدمتونه وړاندې کړي او هم مسافر له ژباړونکیو سره په اړیکه کې کړي.

## په لیږد رالیږد کې ټولنیز ملاتړ

- ډېرى خیریه بنسټونه او هغه اداري چې له کډوالو څخه ملاتړ کوي، د لیږد رلېږد په برخه کې کډوالو ته مالي مرستې کوي. ځینې پروګرامونه دي لکه د یو ځاى سپرېدلو شبکه، په ګډه او وړیا له بایسیکل څخه ګټنه، او تخفیف لرونکي ټکټونه کډوالو ته برابروي.

- **خوندیتوب او خصوصي حریم/ پرته له دې چې د کډوالۍ وضعیت وپوښتل شي: د لیږد رالیږد د خدمتونو تر لاسه کولو پر مهال هېڅ اړتیا نشته چې د کډوال د کډوالۍ وضعیت په اړه دې وپوښتل شي او معلومات دې تر لاسه شي.**
- **خپل حقوق وپېژندنئ:** په بیړنیو حالاتو کې او یا هم له چارواکیو سره د مخامخ کېدا پر مهال بایده دي چې د یو کډوال په توګه او یا هم د یو داسې وګړي په توګه چې لا د دې هېواد رسمي اسناد نه لرئ، باید خبر اوسئ.





# پایله

- په متحده ایالاتو کې ګڼ شمېر د لېږدرالېږد انتخابونه موجود دي. چې دا هر انتخاب د خلکو او سیمې بېلابېلو اړتیاوو او غوښتنو ته ځواب وايي.

- د دې سیستم د کار کولو د ډول په درک سره – له شخصي موټرو څخه تر انلاین ټکسي بورې له عمومي بسونو څخه تر رېلګاډو او مساپرووړونکیو کښتیو پورې- له دې ټولو څخه په اغېزناکه توګه ګټنه کولای شو او اګاهانه پرېکړه وکړو.

- په یاد ولرئ چې واردمخه پلانول او تیارى د یو ښه او بې تکلیفه سفر کیلي ده.

# نوري سرچينې

د اورکا کارت اخیستل
https://www.myorca.com/buy-online/
د عمومي بسونو مهالوېش
https://kingcounty.gov/en/dept/metro/routes-and-service/schedules-and-maps
د پیسو د ورکړې څرنګوالی
https://www.soundtransit.org/ride-with-us/how-to-pay
مټروفلکس
https://kingcounty.gov/en/dept/metro/travel-options/metro-flex
هوپلینک خدمتونه
https://www.hopelink.org/programs/medicaid-transportation/

# References:


- King County (n.d.) *Partnerships and Collaborations: K4C*. Available at: https://kingcounty.gov/en/dept/executive/governance-leadership/climate-office/partnerships-collaborations/k4c (Accessed: 26 January 2025).

- Sound Transit (n.d.) *How to pay*. Available at: https://www.soundtransit.org/ride-with-us/how-to-pay (Accessed: 26 January 2025).

- USAHello (n.d.) *Public transportation in the USA*. Available at: https://usahello.org/life-in-usa/daily-life/public-transportation/ (Accessed: 26 January 2025).

- DMV.org. (n.d.). *DMV guide for drivers*. Retrieved January 26, 2025, from https://www.dmv.org



- **King County (n.d.)** *Partnerships and Collaborations: K4C*. Available at: https://kingcounty.gov/en/dept/executive/governance-leadership/climate-office/partnerships-collaborations/k4c (Accessed: 26 January 2025)

# Thank You

THE END!

King County

PORSESH POLICY RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions

Contact Number: 206-613-9926

Email Address: info@prresearch.us

@porseshresearch